مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سمیع الدین افغاني
۲۰۲۰/۰۸/۲۱

# د سولې هيلې

ځوک دی دسولې ارمانجن ځوک دلته شرخوروي؟
ځوک د پردو په لمسه غم پـه لـر او بر خوروي؟

لارې اوږدې دي د کاروان جـــدا، جدا مزلونه
یو ځوک دهشت په موږ په مکر او هنر خوروي

ښه پـرې پــوهیـږو د دښمن حیله، دوکه پيژنو
دا چې پــردي دلته کې کرکه، بـــد نظر خوروي

زموږ طاقت، زموږ پـه سوله او یووالي کې دی
بیا به د سولې مرغۍ هرې خوا وزر خوروي

دا چې د سیمې زوږ سیاست په بدلیدلو ښکاري
خدای به پر موږ د عدالت او سولې لمر خوروي

اورو جــرس د سترو، سترو کاروانونو لـــړی
ځوک به دې سولې په کاروان باندې اثر خوروي

افغاني ځو بـــه دا مظلوم ولس په غم ژړیــږي؟
ځو به پردي پر موږه هره ورځ محشر خوروي؟

۲۱ -۸ -۲۰۲۰
م ۰ کال


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولـئ